# د کرهنې د لیسو او انستیتوتونو خبرلیک

شپږم کال، لسمه ګڼه د ۲۰۱۷ د اپریل میاشت

**درنو لوستونکو! د کرهنې او وترنرۍ د لیسو او انستیټیوټونو د قدروړ زده کوونکو، استادانو او مدیر صاحبانو!**

ډیره مننه کوم چې تاسې د پن (PIN) لخوا د کرهنې او وترنرۍ لیسو او انستیټیوټونو لپاره د کرهنیز خبرلیک د لسمې ګڼې لوستونکی له ځانه سره لرو. په دې ګڼه کې ستاسې لپاره جالب، په زړه پورې او د لوستلو وړ مقالې نشر شوي دي. ددې خبرلیک پواسطه به تاسې د مهترلام، سمنګان، سرکانو او د دولت آباد د لیسو له فعالیتونو څخه خبر شئ. ددې لپاره چې زده کوونکي ددې نشریې له موضوعاتو خبر شي، د لیسو او انستیټیوټونو له محترمو مدیرانو څخه هیله کوو تر څو دا کرهنیز خبرلیک د ټولګیو او دهلیزونو پر دیوالونو وځړوي څو زده کوونکي یې لوستلو ته لاسرسی ولري.

په دې خبرلیک کې به د کرهنې او وترنرۍ په لیسو او انستیټیوټونو کې د نجونو پروړاندې د شته ستونزو په اړه یوه مقاله ولولئ. نو د کرهنې د ښوونځیو له رهبرانو څخه دا غوښتنه لرو تر څو ستاسې په لیسو او انستیټیوټونو کې د نجونو د شاملیدو پر وړاندې د شته ستونزو په له منځه وړلو کې مرسته وکړئ او له هغو وړو ډالیو څخه چې د پن لخوا ستاسې د ښوونځیو لپاره په پام کې نیول کیږي، په دې برخه کې کارو واخلئ.

په دې ځای کې د سمنګان، مهترلام، دولت آباد او سرکانو د لیسو او انستیټیوټونو څخه مننه او قدر داني کوو چې د خپلو مقالو په رالیږلو سره یې د پي آی ان (PIN) د کرهنزو ښوونځیو لپاره د خبرلیک دا ګڼه لا بډایه او جالبه کړه او زموږ لپاره دا د سرلوړۍ ځای دی چې ددې خبرلیک ډیری مطالب او مقالې ستاسې د ښوونځیو لخوا را استول شوي دي دا ستاسې د فعالیتونو د ښودلو لپاره یوه ښه لاره ده. د ښوونځیو له ټولو زده کوونکو او پرسونلو څخه هیله لرو چې د ښوونځیو رالیږل شوي مطالب او نور خپاره شوی موضوعاتو ولولي او ورڅخه ګټه واخلي.

په روان کال کې پي آی ان (PIN) پنځلس ښوونځي او انستیټیوټونه د مرستو لپاره تر پوښښ لاندې نیولي دي، ددې لیسو او انستیټیوټونو له کړنو څخه نظارت کوي او په پام کې لري چې د تخنیکي او مسلکي ښوونو د معینیت په مرسته له دې ښوونځیو څخه په عملي کارونو کې ترټولو اوچت ښوونځي د نمونه ښوونځیو په توګه غوره کړي. همدارنګه د پن دفتر په پام کې لري چې د بزګر او ښوونځي ترمنځ اړیکې جوړې شي او بزګرانو ته د ډالۍ ورکولو په بدل کې زده کوونکو ته د عملي کارونو چاپیریال چمتو شي. ددې جزییات د ډیر ژر تر عنوان لاندې لوستلی شئ.

**نهضت الله نهضت د پی آی ان (PIN)موسسې د کرهنیز پروګرام مسوول**

## د کرهنې د لیسو او انستیتیوتونو د ښځینه زده کوونکو د زدکړې پروړاندې د شته خنډونو څیړنه

دا څیړنه د کرهنې د لیسو او انستیټیوټونو د ښځینه زده کوونکو د زدکړې پروړاندې د شته خنډونو لپاره د ۲۰۱۶ کال د نومبر په میاشت کې په لاره اچوله شوې ده.

**د څیړنې موخې:**

ددې څیړنې موخه په پروژه کې د کرهنې د ښکیلو لیسو او انستیټیوټونو د ښځینه زده کوونکو د لا ډیر شاملیدلو لپاره د اغیزمنو ګامونو اخیستل دي. دا ګامونه په دوه برخو ویشلی شو:

1. د هغو فعالیتونو او ښوونو سپارښتنه چې د ښځینه زده کوونکو لپاره مهم او په زړه پورې دي.
2. د هغو خنډونو څیړنه چې په لیسو او انستیټیوټونو کې د ښځینه زده کوونکو (یا سیمه ایزې نجونې چې هیڅکله هم ندي توانیدلي د کرهنې په لیسو او انستیټیوټونو کې زدکړه وکړي) د زدکړې په وړاندې پرتې دي.

**د مالوماتو راټولونه**

دا مالومات د ۲۰۱۵ کال د دسمبر په میاشت کې د ۶ ازمایښتي لیسو او انستیټیوټونو او د نجونو له ۶ عمومي لیسو څخه را ټول شوي دي. د هرې لیسې د ځواب ویونکو شمیر په لاندنی جدول کې وړاندې کیږي:

د کرهنې او وترنرۍ د لیسو او انستیټیوټونو ځواب ورکونکي:

| شمیر | د کرهنې لیسه او انستیتوټ | د مرکه کیدونکو مدیرانو شمیر | | د مرکه کیدونکو ښوونکو شمیر | | د مرکه کیدونکو ښځینه زده کوونکوشمیر |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | |
| 1 | د چار آسیاب د کرهنې او وترنرۍ انستیتوټ | 1 | 0 | 3 | 0 | 0 |
| 2 | د پروان د کرهنې او وترنرۍ انستیتوټ | 0 | 1 | 1 | 2 | 8 |
| 3 | د شولګرۍ د کرهنې لیسه | 1 | 0 | 1 | 2 | 10 |
| 4 | د سمنګانو د کرهنې او وترنرۍ انستیتوټ | 1 | 0 | 1 | 2 | 8 |
| 5 | د بلخ د کرهنې او وترنرۍ انستیتوټ | 1 | 0 | 1 | 2 | 12 |
| 6 | د ننګرهار د کرهنې او وترنرۍ انستیتوټ | 1 | 0 | 2 | 1 | 0 |
| توله | | 5 | 1 | 9 | 9 | 38 |

**د عمومي لومړنیو ښوونځیو او لیسو ځواب ورکوونکي**

| شمیر | د عمومي ښوونځي نوم | ولایت | د مرکه کیدونکو مدیرانو شمیر | | د مرکه کیدونکو ښوونکو شمیر | | د مرکه کیدونکو ښځینه زده کوونکو شمیر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | نارینه | ښځینه | نارینه | نارینه | |
| 1 | د بي بي زینب عالي لیسه | بلخ | 0 | 1 | 0 | 3 | 13 |
| 2 | د حوریه جلالی عالي لیسه | پروان | 0 | 1 | 1 | 2 | 10 |
| 3 | د سولې د کارتې عالي لیسه | سمنګان | 0 | 1 | 0 | 3 | 8 |
| 4 | د ملالی شهید عالي لیسه | کابل | 1 | 0 | 0 | 3 | 10 |
| 5 | د رضیه سلطان عالي لیسه | بلخ | 0 | 1 | 0 | 3 | 4 |
| 6 | د وزیر محمدګل خان عالي لیسه | ننګرهار | 1 | 0 | 1 | 3 | 8 |
| توله | | 2 | 4 | 2 | 17 | 53 | توله |

ددې لیسو او انستیټیوټونو څخه دوه ( د ننګرهار او چارآسیاب د کرهنې او وترنرۍ انستیټیوټونه) یو هم ښځینه زده کوونکې نلري، او په سروې کې شامل او د اهمیت وړ دي. عمومي لومړني ښوونځي یا لیسې د کرهنې د لیسو یا انستیټیوټونو سره نږدې ټاکل شوي چې سره پرتله شي. د عمومي ښوونځیو فارغو نجونو سره هم مرکه وشوه چې د کرهنې په لیسو او انستیټیوټونو کې یې په ټینګ عزم سره خپلې زده کړې تر سره کولې. د یو کمې او کیفي څیړنې لپاره یو ترکیب په پام کې ونیول شو څو د څیړنې لپاره اړین مالومات ترلاسه شي. د پروژې ټیم دوه سوالنامې چمتو کړې چې یوه د کرهنې د لیسو زده کوونکو، ښوونکو او مدیرانو لپاره او دوهمه د عمومي لومړنیو ښوونځیو اولیسو د زده کوونکو، ښوونکو او مدیرانو لپاره وه.

د کرهنې لیسې او انستیټیوټونه له لیرې او مختلفو سیمو او ولایتونو څخه د استازولۍ لپاره وټاکل شول لکه: سمنګان، بلخ، پروان، کابل او ننګرهار په دې ترکیب کې شامل شول.

د څیړنې لاسته راوړنې

د څیړنو پایلې دا روښانه کوي چې د افغانستان د کرهنې په لیسو او انستیټیوټونو کې د نجونو د شمیر د زیاتیدو فرصتونه اوشرایط شته. ددې ښوونځیو ډیری ښوونکو او مدیرانو څرګنده کړې چې باید ددوی په انستیټیوټونو کې د نجونو شمیر زیات شي. په عین وخت کې دوی دا منې چې په کرهنیزو لیسو او انستیټیوټونو کې د نجونو د زدکړې کیفیت دومره ټیټ نه دی لکه چې د عمومي ښوونځیو نجونو یې فکر کاوه، په ځانګړي ډول د کرهنې، بڼ روزنې او اقتصاد برخې د نجونو لپاره ګټورې دي. د لیسې تر دورې پورې د وترنرۍ درسونه زیات ګټور نه ګڼل کیږي. دا ښکاره ده چې د افغانستان د نجونو زدکړه ددوی د اوسیدو په چاپیریال کې د ښوونځیو او درسي فرصتونو شتون پورې اړه لري، څکه چې د کلتور په لحاظ په زدکړې پسې د نجونو سفر کول لیرې ځایونو ته د هلکانو په پرتله محدود دی (نجونې نشي کولی لیرې ځایونو ته یوازې سفر وکړي یا په لیلیې کې و اوسي). په عمومي ډول ددوی هیله دا وي چې په پوهنتون کې په ځانګړي ډول د طب په پوهنځي یا د ښوونکو د روزنې په موسسو کې زدکړه وکړي. د کرهنې او وترنرۍ په انستیټیوټ کې زدکړه هغه وخت وړ بریښي چې پوهنتون ته بریالی نشي.

وړاندیزونه:

څرنګه چې ددې څیړنې موخه د پن لخوا د کرهنې او وترنرۍ لیسو او انستیټیوټونو لپاره د اړینو سپارښتنو ورکول دي، دا برخه د څیړنو پر بنسټ د عملي وړاندیزونو ښودنه کوي او دا وړاندیزونه په لاندینیو دوو برخو ویشل کیږي:

1. د کرهنیزو فعالیتونو او ښوونو د هغو ځانګو پراختیا چې د ښځینه زده کوونکو لپاره ډیر ګټور دي

له دې سره، سره څیړنه دا ښیې چې په عمومي ډول نجونې د هغو کارونو د ترسره کولو وړتیا لري چې هلکان یې ترسره کوي (په ساحه کې له ځینو کارونو پرته چې د لاس پواسطه ترسره کیږي) د پن موسسه باید پر هغو کارونو تمرکز وکړي چې د نجونو لپاره په زړه پورې او ګټور وي. دا کارونه په لاندې ډول دي:

- لابراتواري فعالیتونو د خاورې او د نباتاتو تجزیه او تحلیل، د جرمنیشن ټسټ او ورته عملي کارونو په ګډون
- د کمپیوټر او آی ټي وړتیاوو زده کړه
- د سوداګرۍ او حسابدارۍ د وړتیاوو زده کړه
- د کیمیاوي سرو، حشره وژونکو، آفت وژونکو او ورته توکو کارولو زده کړه
- د کمپوسټ جوړول او کارول او د خاورو د فاضله توکو څخه د کمپوسټ جوړول
- د څارویو واکسینونه د چرګانو په ګډون او د واکسینونو ساتنه
- په عملي ډول د مختلفو نباتاتو کرل (د اګرونومي وړتیاوې) لکه: جوار، مالوچ، ساییین، زعفران، سابه ....
- په عملي ډول پیوند او د زخې پیوند او د نیالګیو کښینول
- د مرخیړیو روزل
- د چرګوړو ساتنه او د چرګوړو ایستلو د ماشین کارول
- د شنې خونې او پلاستیکي تونلونو کارول

دا فعالیتونه باید د پن لخوا د ښوونکو د روزنې او د تجهیزاتو د چمتو کولو په تیره بیا د پن لخوا چمتو شوي د ښنسټیزو وړتیاوو د کارولو او نظارت په مرسته تقویت شي (د پري او پوسټ ټسټ له لیارې) او دا د کرهنې د لیسو او انستیټیوټونو د ستراتیژیک پلان سره سم ترسره شي. پر مدیرانو او ښوونکو باندې تاکید وشي چې دپن لخوا د عملي کارونو لپاره چمتو شوي وسایل هم باید د ښځینه زده کوونکو په لاسرسی کې وي.

ددې پرمختګونو په خواکې باید له کرهنیز تجارت سره او د کرهنې د لیسو او انستیټیوټونو اړیکې له لابراتوارونو، د څارویو کلینیکونو، بزګرانو او اړوند انستیټیوټونو سره د ښځینه زده کوونکو اړیکو ته پراختیا ورکړل شي څو ددوی عملي زدکړې تقویت شي. له مدیرانو سره د موافقې په صورت کې به د زده کوونکو د زدکړې د دورې او سیرعلمي ترسره کولو شونتیاوې به د زده کوونکو په تیره بیا د نجونو لپاره چمتو شي. دلته به پن یواځې آسانتیاوې چمتو کوي او د یادو شویو موارد څخه د پن مالي حمایت به لنډ مهاله وي. پن کولی شي د تجارتونو له استازو سره ناستې تنظیم کړي، د زده کوونکو د زدکړې دوره تشریح کړي او د دوی ته د لاګ بوک یا د راپورونو کتاب چمتو او کارونه یې ورزده کړي.

**۲. هغه خنډونه چې ښځینه زده کوونکي (هغه نجونې چې په سیمه کې اوسیږي مګر هیڅکله هم په کرهنیزه لیسه یا انستیټوټ کې نه شاملیږي) په کرهنیزو لیسو او انستیټیوټونو کې د شاملیدو لپاره ورسره مخ دي.**

## د سرکاڼو د کرنې مسلکي لیسې د شنې خونې (ګرین هاوس) په هکله لنډ مالومات

په ۱۳۹۴کال کې د پـن موسسې پـه مـالي مرسته د کنړولایـت د مرکـز د کرهنـې لیسـې لپـاره د (۶۰۰۰۰) افغـانیو پـه ارزښـت پـه ۱۰۰ متـره مربع ځمکـه کـې شـنه خونـه چـه ۲۰ متـره اوږدوالـی او۵ متـره سـورلري، جـوړه شـوه. ددې شـنې خـونې پـه جوړيد و سره لـه یـوه پلـوه ددې لیسې د زد ه کونکو لپـاره د عملـي کـار سـاحه چمتـو شـوه او لـه بلـه پلـوه ددې لیسـې لپـاره د یـو څـه عایـد سـرچینه هم ترلاسـه شـوه. پـه لـومړي ځـل مـو پـدې شـنه خونـه کـې د رومیـانو د ډینـار ورایټـی وکرلـه چـې د کرلـو څخـه ترحاصـل اخیسـتلو او مارکیټینـګ تـولې چـارې یـې د زده کوونکـو لخـوا ترسـره شـوې او زده کوونکـو یکـې پـه عملـي ډول د سـبزیجاتو د روزلـو تګـلارې زده کـړې او هـم یـې ددې لپـاره د بـازار مونـدنې وړتیـاوې تجربـه کـړې. لـه دې شـنې خـونې څخـه مـو ۳۲۰ کیلـو ګرامـه رومیـان بازارتـه واسـتول چـې پـه منځنـي ډول مـو یـو کیلـو پـه (۱۶) افغـانۍ خـرڅ کـړل او پـه ټولـه کـې مـو (۵۱۲۰) افغـانۍ ورڅخـه لاسـته راوړې سـربېره پـردې مـو(۶۰۰) د رومیـانو بزغلـي پـه سیمه ایزو بزګرانو خـرڅ کـړل چـې یـو بزغلی مو پـه (۶) افغـانۍ ورکـړ او ۳۶۰۰ افغـانۍ مـو ورڅخـه ترلاسته کړې.

ددې شـنې خـونې د شپږومیاشـتو د عایـداتو او لګښتونو جدول په لاندې ډول دی:

| تول عاید | تول لګښت | خالص عاید |
|---|---|---|
| ۸۷۲۰ | ۲۰۸۰ | ۶۶۴۰ |

همدا ډول مـو د کـونړ دوه مسلكي لیسـو ( خـاص کنړ او د مـروري د کرهنـې مسـلکی لیسـو) سـره د شـنو خونـو لپـاره درې، درې سـوه د رومیـانو د بزغلیـو مرسـته کـړې ده. د یـادولو وړ ده چـه مخکـې هـم د پـن موسسـې لـه دې لیسـې سـره د کتـابتونو او د شـاتو مچیـو د صـندوقونو مرسـته کـړې وه. د سـرکاڼو د کرنـې مسـلکي لیسـې اداره د پـن موسسـې لـه دې مرسـتو څخـه مننـه کـوي او پـه راتلـونکي کـې هـم د لازیاتو مرستو هیله لري.








## د لغمان د مرکز د کرهنې لیسه

په 1387 لمریز کال کې د لغمان د مرکز د کرهنې مسلکي لیسه د پوهنې ریاست تر چتر لاندې تاسیس شوه او په همدې کال یې په خپلو فعالیتونو پیل وکړ. د تاسیس له پیله راپدیخوا یې څلور دورې د کرهنې په مسلک سمبال زده کوونکي ټولنې ته وړاندې کړیدي او همدا زده کوونکي بیا د کانکور د آزموینې وروسته په ښو نمرو سره د عالی تحصیلاتو لپاره مختلفو پوهنتونو ته بریالي شویدي. نوموړې لیسه ددې ترڅنګ نورې لاسته راوړنې هم لري چې عبارت دي له:

شنه خونه چې د کرهنې د مسلکي لیسې لپاره ډیره اړینه ده چې د مرکز د کرهنې په لیسه کې د پن موسسې په مالی همکاری سره سمباله شویده. په دې شنه خونه کې د کال په ټولو میاشتو کې موسمي Seasonal plants او غیر موسمي نباتات، مورني بوټي Mother stock، زینتی بوټي او د بزغلیو روزنه تر سره کیږي چې د عاید ښه سرچینه ده.

چې یو مورني بوټي لرونکي ګلدان په 300 افغانۍ او ټوله بیه یې 1800 افغانۍ کیږي د خالي ګلدانیو بیه 13 افغانۍ دخالي ګلدانیو شمیر 200 داني چې له همدې څخه په ټوله کې 2600 افغانۍ ترلاسته کیږي. اوس که چیرې همدا په راتلونکي کال کې په اټکلي ډول سره محاسبه شي نو لاندې عاید به ترې لاسته راشي.

| ګڼه | د شنی خونی تولید | عاید | |
|---|---|---|---|
| 1 | د تکثیر شوو ګلدانیو شمیر | 200 دانی | |
| 2 | د خرڅلاو لپاره د ګلدانیو شمیر | 180 دانی | |
| 3 | په راتلوونکي کې د یوې ګلدانی بیه | 80 افغانی | |
| | د مجموعي ګلدانیو بیه 14400 افغانۍ | 10000 افغانۍ | |

یاده لیسه ددې لاسته راوړنې په خوا کې بله لاسته راوړنه هم لري چې عبارت د چرګوړو د فارم څخه چې په 1395/5/13 نیټه د PIN موسسې لخوا د زده کوونکو د عملي کارونو لپاره جوړ شوی دی چې په لمړي ځل پکې 200 داني چرګوړي تر روزنې لاندې ونیول شول چې د چرګوړو شمیر ته په کتو غټ عاید ترې لاسته راغی.

د 200 چرګړو له جملې څخه 5 داني ضایع شول او د 30 ورځو په موده کې 195 داني چرګوړي چې له 1200 څخه تر 1500 ګرامه پورې وزن درلود، بازار ته وړاندې شول. یو چرګوړی په 9 افغانۍ اخستل شوی وو د رزونې وروسته 195 چرګوړي یو په 149 افغانۍ بازار کې وپلورل شول چې د پلور څخه یې 28275 افغانۍ عاید لاسته راغلی دی.

| ګڼه | د جنس نوم | د یو واحد بیه | مقدار | ټوله بیه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | غوښین چرګوړي | (۹) افغانۍ | ۲۰۰ | (۱۸۰۰) افغانۍ |
| ۲ | د چرګوړوخوراکه | (۱۶۲۵)افغانۍ | (۱۰) بورۍ | ۱۶۲۵۰ افغانۍ |
| ۳ | واکسین او ویټامین | ویټامین ۵۰۰افغانۍ واکسین (۲۵۰) افغانۍ | (۴) پاکت (۲) بوتل | ۲۵۰۰ افغانۍ |
| ۴ | دځمکې د فرش لپاره د اري بور | (۱)یومن ۶۰ افغانۍ | (۵) منه | ۳۰۰ افغانۍ |
| | ټول لګښت | | | ۲۰۸۵۰ افغانۍ |

ددې په خوا کې د پن موسسې له خوا یوه پایه د چرګوړو ایستلو ماشین هم د لغمان ولایت مرکز د کرهنې مسلکي لیسې ته ورکړ شوی دی چې د 260 چرګوړو د ایستلو ظرفیت لري او یاد ماشین د برق او سولر دواړو پواسطه چلیږی او په راتلونکي کې به لیسه پخپله د چرګوړو د تولید وړتیا ولري





د عصري تکنالوجۍ شتون هم یو له مهمو اړتیاوو څخه دی چې د کرهنې مسلکي لیسه پرې د پن موسسې په مرسته سنباله شویده چې اوسمهال زده کوونکي د کمپیوټر عملي کارونه په کمپیوټر لیب کې سرته رسوي.

ددې سره سره نوموړې لیسه لابراتوار هم لرې چې زده کوونکي پکې د عملي کار د سرته رسولو لپاره ورته مراجعه کوي او همدارنګه زده کوونکي د حیواني او نباتي حجرو کتنه په لابراتوار کې ترسره کوي.



زده کوونکي لپاره یو مجهز کتابتون هم لري چې یاد کتابتون د مسلکي، غیر مسلکي، ټولنیز، اقتصادي، کلتوري کتابونه، او قاموسونه لري او زده کوونکي کولی شي چې خپلې زده کړې د دی کتابونو په وسیله نورې هم لوړې کړي او همدارنګه زده کوونکي کولی شي چې د موضوع دلاروښانتیا لپاره هم دې کتابتون ته مراجعه وکړی. پاتی دی نه وی چې دغه کتابتون د PIN او NAEC موسسو له طرفه جوړ شویدی.









اوس مهال دلیسې په فارم کې په نمایشی ډول ګني کرل شوي چې ډیره ښه وده یې کړې ده او د حاصل اخیستلو وخت یې لا ندی رسیدلی چې زده کوونکي ورڅخه د عملي کارونو د سرته رسولو لپاره کار اخلي.

ددې په خوا کې د عملي کارونو د سرته رسولو لپاره نورې کرنې هم شویدي چې د شاګردانو په زده کړی کی ډیر مهم رول لوبولی شی.

په.درناوی

یاد معلومات د لغمان ولایت د مرکز د مسلکی لیسې لخوا چمتو شوي دي.

**امیرالله خاشع**

**د لیسی امر**

# کُـــنځــــــلې

## کُنځلې :

کُنځلې د تودو سیمو له مهمو خوراکي او صنعتي کرهنیزو نباتاتو څخه شمیرل کیږي او د نړۍ ترټولو پخوانۍ غوړي دانې پیژندل شوې دي، د کُنځلې د نبات کرهنه او د هغې د ورایټیو انتشار په افریقا، ایران افغانستان، هند، چین او د نړۍ په نورو برخو کې ډیر زیات دی، مګر د کُنځلې لوی تولید کوونکي هیوادونه هند، چین او برما دي. کُنځله د استعماري هیوادونو پواسطه اروپا او امریکې ته لیاره موندلې. په نړۍ کې د کُنځلې د تولید کچه په وروستیو کلونو کې ۳ میلونه ټنو ته رسیدلی دی. د چین او هند هیوادونه د کُنځلې تر ټولو مهم تولید کوونکي شمیرل کیږي. د کُنځلې د کرلو مخینه په بین النهرین، افغانستان او ایران کې تر ۴۰۰۰ کلونو اوړي. اوسمهال کُنځله د ننګرهار، هرات، کندز، بغلان او ځینې نورو ولایتونو کې هم کرله کیږي.



## د کُنځلې نباتي ځانګړتیاوې:

د کُنځلې علمي نوم Sesamum indicum او یوکلنه ګیاه ده او بوټی لري، د کُنځلې ځینې ډولونه هم شته چې څوکلن دي، د کُنځلې د ودې دوره له ۳ څخه تر ۶ میاشتو پورې اټکل شوې او تر ډیره له ۱۰۰ څخه تر ۱۲۰ ورځو پورې دوام کوي. کُنځله مستقیمې، ځواکمنې او خپرې ریښې لري چې په نرمو، تودو او لندو ځمکو کې تر ۲ مترو پورې ښکته ځي، په اوبیزو ځمکو کې یې د ریښې ژور تلل او پراختیا تر یو متر پورې رسیږي. د کنځلې ځانګې نیغې او ۴ اوښکالي لري، ځانګې یې لزجي مواد لري او له اوبو ډکې وي، ځانګه یې د روښانه شین او ارغواني تر منځ رنګونه لري چې اوږدوالی یې له ۶۰ تر ۱۵۰ سانتي مترو پورې وي او تر ډیره یې یو کلنه ورایټي کرله کیږی.

## د سرې کارول:

سرې ته د کُنځلې د اړتیا او په خاوره کې د غذایي توکو د کمښت په مهال یې د غبرګون په اړه پراخې څېړنې ندي شوې، د شته مالوماتو پر بنسټ د هر ټن کُنځلې د تولید لپاره له ۴۵ – تر ۵۵ کیلوګرامه نایټروجن، ۱۴ – ۱۵ کیلو ګرامه فواسفورس، ۳۲ تر ۳۴ کیلو ګرامه د فاسفورس اکسایډ، ۵۵ – ۶۵ کیلوګرامه پتاشیم، ۶۶ – ۷۸ کیلوګرامه د پتاشیم اکسایډ ته اړتیا لري. په خاوره کې د یادو توکو د نشتون په مهال اړینه ده چې نوموړي توکي د کیمیاوي سرې په بڼه خاورې ته ورکړو، د شته تګلارو د کارولو په پایله کې باید انتظار وباسو تر څو د خاورې د حاصل ورکولو کچه اټکل کړو(د کروندې سوابقو ته په کتنه) او د اړینو سرو اړتیا وټاکو. په ډیری سیمو کې کیدای شي له سیمه ایزو تخمونو څخه د کُنځلې د کرلو لپاره کاروا‌خیستل شي چې د حاصل ورکولو لږ توان لري او په پایله کې د کارول شویو سرو په وړاندې غبرګون ونه ښيي. کیمیاوي سرې ته اړتیا ښایي د نبات د ظاهري بڼې پر بنسټ هم وټاکل شي، په کنځلو کې د نایټروجن د کمښت له امله د نبات د رنګ پکه کیدل او په ځانګه لرونکو ورایټیو کې د ځانګو نه کول د نریو ځانګو درلودل او لاندینۍ پاڼې رنګ یې په پکه لیمویي رنګ بدلیدل چې ورو، ورو په نارنجي رنګ اوړي او تویيږي. د فاسفورس د کمښت له امله په ځانګه لرونکو ورایټیو کې د ځانګو وده کمښت مومي، ځانګې نرۍ کیږي او لاندینۍ پاڼې یې تیاره شین د ایرې په خیر رنګ ته اوړي او نیکروز کیږي او په پای کې تویيږي. د پوتاشیم د کمښت په مهال د بوټي قد ټیټ پاتې کیږي او د لاندینیو پاڼو څنډې یې راتولیږي او د کاسې بڼه غوره کوي، پر پاڼو د سوځیدو ژیړې نخښې پیدا کیږي چې بیا په روښانه نارنجي رنګ اوړي او بیا سور کیږي. په عمومي ډول د پوتاشیم د کمښت له امله پاڼې نه تویيږي. په هر حال داسې اټکل کیږي چې په یو هکتار کې د ۱ – ۲ ټنو کُنځلې تولید په اوبه ایزو ځمکو کې له ۳۵ څخه تر ۷۵ کیلوګرامه پورې نایټروجن ته اړتیا لري. فاسفورس ته اړتیا په خاوره کې د فاسفورسو په کچې پورې اړه لري او په هکتار کې د ۱۵ تر ۴۵ کیلو ګرامه پورې فاسفورس، (۳۴ – ۱۰۳ کیلوګرامه د فاسفورس اکسایډ) ته د اړتیا اټکل کیږي. څرنګه چې کُنځلې د وچو سیمو په دوبي کې کرلې کیږي، د پوتاشیم سرې ته اړتیا نشته.



په یو بوټي کې د پاڼي بڼه او لوی والی او په مختلفو ورایټیو کې توپیر لري. په تولہ کې د بوټي ټیټې پاڼي پلنې او دندانې، دندانې وي او هر څومره چې مخ په پورته د ځانګو په لور ولاړ شو د پاڼو دندانې کمیږي او پاڼې لا نرۍ، اوږدې او تیرې څوکې پیدا کوي.

## د کُنځلې د کرلو وخت:

کُنځله یو ګرمي خوښونکی نبات دی او تر ډیره د غوایي د میاشتې له پیل تر آخره کرله کیږي، هغه کُنځله چې یوفصله کرله کیږي، د دوه فصله کُنځلې په پرتله ژر کرله کیږي، د کرلو په مهال باید د خاورې لندبل زیات وي او د کُنځلې د تخم د شنه کیدو لپاره د سانتي ګریډ ۲۰ درجې تودوخه اړینه ده، په نیمه سړو سیمو کې د کُنځلې کرل باید د کرلو د وخت په پیل کې ترسره شي چې د تودوخې منځنۍ درجه په شپه او ورځ کې ۲۰ وي، په یو څه سړو سیموکې د کُنځلې کرل باید هغه وخت ترسره شي چې په شپه او ورځ کې منځنۍ تودوخه د ۲۰ ـ ۲۵ درجو پورې رسیدلې وي. که په داسې اقلیم کې کُنځله د دوهم محصول په توګه لکه له اوربشو وروسته کرله کیږي، نو پکار ده چې له ژر پخیدونکو ورایټیو څخه کار واخیستل شي او کرنه باید د اوربشې له کرلو سمدلاسه ورسته ترسره شي تر څو د محصول د پخیدو دوره د منې له سړو سره په ټکر کې رانشي. په هغو سیمو کې چې ډیر سوړ ژمی نلري، د دوهم فصل کُنځله دې د غنمو له راټولولو وروسته ترسره شي او د نبات د ګل کولو او دانې د تولید نیټه دې د دوبي له ګرمۍ څخه د خلاصون لپاره تنظیم شي، په داسې مهال کې کرنه د چنګاښ د میاشتې په دوهمه نیمایي کې وړ بلل کیږي

## د ناکاره بوټو کنټرول:

د کُنځلې د بوټي وده په پیل کې ورو وي او له ناکاره بوټو سره سیالي نشي کولی، نو له دې امله کُنځله باید د ناکاره بوټو څخه پاکه ځمکه باندې وکرله شي او که نه د ناکاره بوټو وژونکو دواو ته به اړتیا وي او کله چې د کنځلې د بوټي لوړوالی له ۱۰ سانتي مترو واوړي وده یې تیزوالی مومي او له ناکاره بوټو سره یې د سیالي توان زیاتیږي، مګر بیا هم نبات د ناکاره بوټو په وړاندې ساتنې ته اړتیا لري، له دې سره، سره د کُنځلې دانې کوچنۍ دي او له دې دانو څخه د ناکاره بوټو د تخم لیرې کول او ددې کار لپاره د شته میخانیکي تګلارو ته په کتلو، دا څرګندیږي چې باید پټی د محصول د راټولولو په مهال له ناکاره بوټو څخه پاک وي او یا ناکاره بوټي ځوان وي او د تخم پړاو ته نه وي رسیدلي. په کتارونو کې د شته ناکاره بوټو د میخانیکي کنترول لپاره کولی شو له کلتیوار څخه کار واخلو مګر باید پام وکړو چې کلتیوار د کُنځلې کتار خراب نکړي او ریښو ته یې تاوان ونه رسوي. که نبات په پاشان ډول کرل شوی وي، نو کولی شو ناکاره بوټي د لاس پواسطه له منځه یوسو او د کُنځلې په کرونده کې د ناکاره بوټو وژونکي درمل کارول هم شونی دی.

## له چاپیریال سره د کُنځلې توافق:

کُنځله د تودو سیمو محصول دی او په منځنې ډول د جنوبي ۳۵ او د شمالي ۴۰ درجو عرض البلدونو او د بحر له سطحې څخه د ۱۷۰۰ مترو تر لوړوالي پورې ښه حاصل ورکوي او دا تر ډیره د هغې په ورایټۍ او جغرافیوی عرض البلد پورې اړه لري. ډیری هغه ورایټۍ چې په سړو سیمو کې کرل کیږي لنډه ونه لري، ژر رسیږي او ځانګې نه تولیدوي او د هرې پاڼې په زاویه کې یو ګل کوي او لږ محصول لري. په تولہ کې د تودو سیمو د کنځلو د غوړو سلنه لوړه وي، د کُنځلې د ودې په لومړیو پړاوونو کې له ۲۰ تر ۲۴ درجې او د دانې نیولو په پړاو کې ۲۷ درجې تودوخه ورته وړ ده. د تودوخې ۳۰ درجې د شنه کیدو په مهال د ژر شنه کیدو او ګل کولو لامل کیږي. د کُنځلو ځینې ورایټۍ د تودوخې ۴۰ درجه او له دې نه زیاته هم په آسانۍ سره زغملی شي مګر د ګرده شیندنې په مهال داسې پیښې د القاح او پلیو په شمیر کې ناوړه اغیزې اچوي، له ۲۰ درجو ټیټه تودوخه هم د د نبات د ودې د کمیدو لامل کیږي او له ۱۰ درجو ټیټه تودوخه د ودې د دریدو او د نبات د شنډیدو لامل کیږي. په ځینې سرچینو کې راغلي چې په شپه او ورځ کې له ۲۵ تر ۲۷ درجو پورې تودوخه کُنځلې ته وړ تودوخه ده. د کُنځلې تولید کم تر کمه د ۵۰ ورځو ژمنیو سړو ته اړتیا لري.

## د کُنځلې د ودې پړاوونه:

د کرهنیزو تصمیمونو له امله د کُنځلې د ودې پړاوونه د شنه کیدلو، د پاڼو تشکیل، د ځانګو او د غوټیو د تشکیلیدو پیل، د ګل کولو پیل، او د پلیو د تشکیل او بشپړ ګل کولو پړاو او د فزیولوژیکې دورې پشپړول دي. د شنه کیدو ورځ هغه ده چې په یو واحد ځمکه کې ۵۰ سلنه تخمونه له ځمکې را ختلې وي او د مشیمې پاڼې یې سره جلا شوې وي، له شنه کیدو وروسته د حقیقي پاڼو راوتل تر سترګو کیږي چې کولی شو دا پړاونه د ۵۰ سلنې نباتاتو د یوې پاڼې، دوو پاڼو او ... پاڼو د شنه کیدو په پړاونو وویشو.

هغه پاڼې باید وشمیرل شي چې په بشپړ ډول غوړیدلې وي او نیم سانتي په کچه سطحه ولري، د ګل د غوټیو د ټوکیدلو پیل هغه مهال دی چې لومړنی غوټۍ د ۵ ملي مترو په کچه د ۵۰ سلنې نباتو د اصلي ځانګې پر سر ولیدل شي، او د ګل کولو پیل هغ مهال دی چې د ۵۰ سلنې نباتاتو پر ځانګو لومړنی ګل وسپړیږي او د پلیو د تشکیل مهال هغه دی چې په هغه کې د ۵۰ سلنې نباتاتو پر اصلي ځانګو کې د ۵ ملي مترو په اوږدوالي لومړنی پلی تشکیل شوي وي. د بشپړګل کولو مهال هغه دی چې ۵۰ سلنې بوټو په څلورم بند کې د ۵ ملي مترو په کچه پلی تر سترګو شي، د فزیولوژیکې دورې د بشپړیدلو دوره هغه ده چې د کُنځلې د ۵۰ سلنې بوټو لومړنی پلی په نصواري رنګ اوښتي وي او د پخیدو مهال یې هغه دی چې د ۵۰ سلنې بوټو ۷۵ سلنه پلیو رنګ په نصواري رنګ بدل شوي وي.

## د تخم لپاره د بستر چمتو کول:

د کُنځلې د کرلو لپاره د ځمکې چمتو کول داسې ترسره کیږي چې یو یا دوه ځلې ځمکه ژوره یوه یا قولبه او بیا ماله کړای شي او د کرلو په مهال باید ځمکه ژوره یوه نشي او د تخم د کرلو د ژوروالي په کچه یوه شي، د خاورې د هوارولو او د ځمکې د لږ سختیدلو او له خاورې سره د تخم د تماس لپاره باید ځمکه ښه ماله شي. د اړتیا سره سم د فاسفورس او پتاشیم لرونکو سرو کارول باید تر سره شي، نوموړې سرې باید د منې د یوې په مهال او د نایټروجن سره دې د کرلو څخه مخکې یوې په مهال وکاروله شي. کُنځله باید د په کتارونو کې د کتارونو د اصولو سره سم تر سره شي او په یو هکتار کې له ۶ څخه تر ۸ کیلوګرامه تخم شیندل کیږي او تخم له ۲ تر ۲,۵ سانتي مترو په ژوروالي تر خاورې لاندې کیږي. د کُنځلې د روزلو په مهال باید بوټي رنګړي شي چې په هرو ۱۵ – ۲۰ سانتي مترو کې باید یو نبات پاتې شي چې په دې ډول په یو هکتار کې له ۸۰ څخه تر ۱۰۰ زره بوټي کرل کیږي. هغه ځمکه چې کُنځله وربانډې کرله کیږي باید ښه وتره وي ترڅو د کُنځلې دانې په هغې کې سمه وده وکړي او له کرلو څخه دمخه باید ځمکه ښه هواره شي تر څو د اوبه کولو په مهال د کُنځلې د بوټي لاندې اوبه راټولې نشي چې د تودې هوا په مهال د بوټي د له منځه تلو لامل کیږي

## د کُنځلې اوبه کول:

کُنځله د اوبو د کمښت په وړاندې مقاومه ګیاه شمیرل کیږي مګر ګیاه وروسته له شنه کیدو په لومړي سر کې چې ریښې یې محدودې وي، له وچ اوبې سره حساسه ده. کُنځله د ګل کولو او دانې نیولو او د پاڼو د سطحې د پراختیا او تنکیو ځانګو مرستمي د تشکیل په مهال هم د خاورې د نم له کمښت سره حساسه ده. د کُنځلې د اوبه کولو په اړه زیاته څیړنه نده شوې مګر د پورتنیو ټکو او د شته مالوماتو پر بنسټ د کُنځلې او دې ته ورته نباتاتو لپاره په سپکو او نیمه درنو خاورو کې د اوبه کولو پروګرام په لاندې دول بیانوو: د محصول د کرلو څخه ځمکې د خاورې د چمتو کولو لپاره لومړنې اوبه کول تر سره کیږي، دوهم اوبه لګونه د محصول له کرلو وروسته هغه مهال تر سره کیږي چې د خاورې سطحه لا وچه نه وي سپکې اوبه ورکول کیږي او د دریم ځل لپاره اوبه کول هغه مهال ترسره کیږي چې لا د خاورې تر ۱۵ سانتي متره پورې ژوره برخه کې لندبل شتون ولري او بیا نو د خاورې جوړښت ته په کتلو کله چې د خاورې تر ۲۰ ـ ۳۰ سانتي مترو پورې خپل ۶۰ ـ ۶۵ سلنه لندبل له لاسه ورکړی وي، ترسره کیږي. کولی شو د اوبه کولو دا معیارونه د محصول تر فزیولوژیکې پخیدنې پورې جاري وساتو. ډیری بزګران د محصول د ژر پخیدو په موخه د کروندې اوبه کول بندوي (د پخیدو په مهال) چې دا کار هغو دانو ته تاوان ورواړوي کوم چې د پخیدو په حال کې دي، ښه دا ده چې اوبه کول بند نه کړو اویوازې کیدای شي ځواني دانې د پخیدو لپاره د نبات د ځانګو له لندبل څخه کار واخلي.

## کرهنیز تناوب:

د کُنځلې د تولید په کچه او کیفیت باندې د کرهنیز تناوب پر اغیزو زیاتې څیړنې ندي شوې، د ګیاه نسبي زغم ته په کتلو سره ویلی شو چې کُنځله یوه پسرلنۍ یا د دوبي ګیاه ده او د پسرلي په ځنډ پخیدونکو محصولاتو لکه چغندراو رشقې پر ځای د کُنځلې لپاره د بستر چمتو کول ګټور تماميږي. له بله پلوه کُنځله یوه ښه ګیاه ده چې د منې د محصولاتو څخه د مخه وکرله شي ځکه د کُنځلې د محصول له راټولولو وروسته په ځمکه باندې څه نه پاتې کیږي او په پایله کې د راټلونکي محصول د بستر په چمتو کولو کې د ګیاه پاتې شونې ښکیل نه وي. سربیره پردې د کُنځلې بوټی پراخې ریښې لري چې کولی شي د خاورې د نفوذ وړتیا لوړه کړي. په صنعتي کرهنه کې کولی شو کُنځلې له جوارو سره وکرو چې دا کار کولی شي کُنځلې د بادونو په وړاندې وساتي. په اوبیزو کروندو کې د کُنځلې د تناوب بیلګې راوړل شوې دي.

الف- چغندر، کُنځله ، غنم، اوربشې
ب- شوتله، کچالو، لوبیا، اوربشې، کُنځله ، غنم
ج- مالوچ، اوربشې، غنم، کُنځله

په باراني سیمو کې په پراخ او میکانیزه ډول د کُنځلې کرنه شونې نه بریښي په صنعتي شرایطو کې کولی شو کُنځلې د ممپلیو په څیر د للمیو په تناوب کې راولو. د للمي کنځلو تناوب په لاندې ډول دی:

د دانې یا خوراکې په موخه حبوبات، ممپلي، کُنځله

**محمد فواد نبي زی**

# د بلخ ولایت د دولت آباد د کرهنې د مسلکي لیسې په اړه لنډ مالومات

**د دولت آباد د کرهنې مسلکي لیسه** په ۱۳۹۱ ه ز کال کې تاسیس شوې چې د دولت آباد ولسوالۍ په مرکز کې موقعیت لري او د مزار ښار په ۵۰ کیلومترۍ کې پروت دی. په لومړي کال دې لیسې په دوو ټولګیو په کار پیل وکړ او تر اوسه (د ۱۳۹۵کال تر پایه) یې د کرهنې په برخه کې ۷۱ تنه مسلکي زده کوونکي ټولنې ته ډالۍ کړي. په ۱۳۹۵ کال کې دې لیسه ۵ ټولګي درلودل چې یو ټولګي یې د نجونو لپاره ځانګړی شوی دی. که څه هم دې لیسې د درسي سهولتونو په نشتون په کار پیل کړی وو، مګر ډیر ژر یې وکولی شول د دې ولسوالۍ په ۲۷ ښونځیو او کرهنیزې ټولنې کې خپل شتون ګټور ثابت کړي. د دولت آباد د ولسوالۍ اوسیدونکو د کرهنې له دې لیسې سره هر ډول خواخوږي لري او خپل بچیان د مسلکي زدکړو لپاره دې لیسې ته رالیږي. لکه څرنګه چې مو مخکې وویل، دې لیسې په پیل کې هیڅ اداري وسایل نه لرل مګر له نیکه مرغه د پن محترمې موسسې هرکال له دې لیسې سره د اداري وسایلو او د عملي کارونو د وسایلو په برخه کې مرستې کوي. د ۲۰۱۶ کال په پای کې دې لیسې وکولی شول د یو پروپوزل له مخې د پن د موسسې مرسته د لیسې د کرهنیزو پلاټونو او څښلو اوبو ستونزه حل کړي چې له نیکه مرغه دا پروژه د پن دفتر لخوا منظوره شوه او د ۱،۵ انچو په ظرفیت یو لمریز واټر پمپ یې لیسې ته نصب کړ چې ددې پروژې له بشپړیدلو سره اوس دا ستونزه له منځه تللې ده. اوس دا لیسه کولی شي خپل ټول کرنیز عملي کارونه د ښوونځي په پلاټونو کې ترسره کړي.

د یادونې وړ ده چې لیسې د ښه مدیریت پر مټ په لاندې برخو کې هم ځینې لاسته راوړنې لري:

- د ولسوالۍ د پوهنې له آمریت، د ولسوالۍ د کرهنیزو خدمتونو له مدیریت او ټولنیزو بنسټونو سره همغږي
- تدریس او عملي کارونو ته ټینګه پاملرنه
- د مخکښو بزګرانو او زده کوونکو د والدینو بلنه دولسوالۍ د مالدارۍ او کرهنې عملي او مشورتي چارو لپاره
- له نږدې عمومي لیسو او منځنیو ښوونځیو سره د اړیکو ساتل
- په غیر رسمي وختونو کې د تقویتي کورسونو په لاره اچول

په تیرو کلونو کې لیسې لاندې عملي (تجربوي) کارونه پر مخ بیولي دي:

1. د زعفرانو کرل
2. د زده کوونکو پواسطه د غنمو د مختلفو ورایټیو کرل په لیکو کې او د بریډینګ عملیه
3. د غنمو د کرلو د پایلو را ټولونه
4. د څانګو غوڅونه، د بڼ مدیریت او د درملو شیندنه
5. د شاتو د مچیو تجربوي روزنه
6. په شنې خونې کې کرنه او د څاڅکو پواسطه اوبه کول
7. د میوو پروسس
8. د یوریا تریټمنټ جوړول، سایلیج، د تخمي چرګانو د خوړو جوړول، د سایبینو شیدې ایستل، د آچارو جوړول...
9. د هګۍ اچونکو چرګانو د یو کوچني فارم جوړول
10. د یو مناسب لابراتوار جوړول د دولت آباد ولسوالۍ د پوهنې د آمریت په مرسته





### د سمنګانو د کرهنې او وترنرۍ انسټیټوټ بریالیتوبونه

د سمنګانو د کرهنې او وترنرۍ انسټیټوټ 574 تنه زده کوونکي لري او ددې انسټیټوټ استادانو تر ۱۳۹۲ کاله پورې د عملي کارونو پلانونه نه درلودل او د عملي او تجربوي کارونو سیمه یې یو جریب اټکل کیده چې ۱۳۵ میوه لرونکو او بې میوو ونو نیولې وه او د نورو نباتاتو او نمونوي کرنې نخښې پکې نه وې، له مطالعوي کتابونو، کمپیوټر، پروجکټر او په لابراتوار کې نورعملي کارونه په غیر منظم ډول پرته له راجستره ترسره کیدل او د څوارلسم ټولګي لپاره د کار د زدکړې لپاره کوم پروګرام شتون نه درلود.
مګرد ۱۳۹۳ کال څخه وروسته چې کوم بدلونونه د دې اداري په رهبرۍ کې رامنځ ته شوي، د پوهنې ریاست د لاربښوونو او تشویق، په ډیر شمیر ورکشاپونو کې د انسټیټوټ د مدیرانو او استادانو ګډون، د استادانو او کارکوونکو نه ستړي کیدونکو فعالیتونو او هڅو، د پن موسسې د کرهنیزو ښوونو د ټیم دوامداره مشورو او د مرکز او ولایتونو په کرهنیزو ننداړتونونو کې فعالې ونډې اخیستنې له امله ددې انسټیټوټ په کړنو کې زیات بدلون راغلی چې په لاندې ډول هغو ته اشاره کیږي:
د استادانو تدریس د کلني درسي پلان او اونیزو درسي پلانونو له مخې چې له مخکې نه چمتو شوي دي، تنظیمیږي او ډیرې مسلکي موضوعات د پروجکټر پواسطه وړاندې کیږي. سربیره پر دې د هر سمسټر دعملي کارونو پلانونه د درسي نصاب له مخې د استادانو له خوا چمتو کیږي او بیا د مدیر لخوا توحید او بیا ترسره کیږي. ددې انسټیټوټ د کرنې ساحه تر ۳ جریبو پورې زیاته شوې چې ۳۵۰ د میوه لرونکې او ۱۳۰ بې میوې ونې پکې ایښودل شوي دي او اوسمهال له ۴۰ ډوله زیات نبات لکه: غنم پالک، ګندنه، مرچ، هوږه، زغر، کنځلې، سایبین، مصور، ځمکنې توت، زعفران، ډول، ډول ګلان، د منو ونې، تاک، پسته او زینتي ونې یې د انسټیټوټ په تجربوي پلاټونو کې تررورزنې لاندې نیولې دي. پدې پلاټونو کې ټولې کړنې لکه د ځمکې تیارول، کرنه، د ناکاره بوټو کنټرول، اوبه کول، د ناروغیو او آفاتو کنټرول او حاصل راټولونه د اړوندو استادانو تر لاربښوونې لاندې د زده کوونکو لخوا ترسره کیږي چې د زده کوونکو ټولې کړنې او فعالیتونه له جزییاتو سره په اړوند فایل کې لیکل کیږي.
د عملي او تطبیقاتي چارو د تداوم او پایښت لپاره مالي چارې د ۴ تنو وتلو استادانو لخوا د آمر د مستقیم نظارت لاندې تنظیم او پرمخ وړل کیږي او ټول مالي لګښتونه او عواید له جزییاتو سره په اړوند مالي فایل کې لیکل کیږي.
د یادونې وړ ده چې په دې انسټیټوټ کې د چرګوړ ایستلو یو فعال فارم هم شتون لري چې څو دورې یې تولیدات درلودل او د چرګانو د روزنې په برخه کې د شمال د کرهنې ښوونځیو د عملي کارونو د لیدلو لپاره یو ښه مرکز ګڼل کیږي.
سربیره پردې ددې انسټیټوټ اداري وکولی شول په ۱۳۹۵ کال کې د پن موسسې په مالي مرسته د ۲ ورځو په موده د بڼ روزنې په برخه کې یو ټرېنینګ د خرم او سارباغ، فیروز نخچیر، دره صوف، د کندز ولایت د امام صاحب د کرنې لیسو او د بغلان د کرنې او وترنرۍ انسټیټوټ استادانو او ۵ سیمه ایزو کروندګرو لپاره تر سره کړي

## د ترکیبی کرنی ډولونه

**تعریف:** په یوه بستر کې د دوو یا ډیرو نباتاتو کرلو ته وایی. په ترکیبي کرنه که نباتات کولی شي له هوا، اوبو او غذایي توکو ښه او اغیزمنه ګټه واخلي.

**د ترکیبي کرنې ډولونه:**

**څلور ډوله ترکیبي کرنه شته:**

1- **په کتارونو کې ترکیبي کرنه:** دوه یا له دوو څخه زیاتو نباتاتو کرلو ته وایی چې په یو وخت کې وده کوي، کم تر کمه په هر کتار کې یو ډول نبات کرل شوی دی. د بیلګې په توګه: یو کلن نباتات لکه وریجې، جوار او اناناس د کتارونو په منځ کې په ترکیبي ډول کرل کیږي او وده کوي.



**۲. کتاري یا خطي ترکیبي کرنه:** په دې ډول کرنه کې دوه یا له دوو څخه زیات نباتات په پلنو کتارونو کې کرل کیږي. تر هغه ځایه چې میخانیکي عملیاتو ته اجازه ورکوي مګر د نباتاتو د ګډ فعالیت لپاره باید په کافي کچه نږدې وي لکه: غنم سایبین او جوار




۳. ګډه کرنه: په بې ترتیبه او ګډ ډول د دوو یا له دوو څخه د زیاتو نباتانو کرلو ته وایي، د یو کلنو نباتاتو بیلګې: لکه جوار، لوبیا او کدو



**۴. مرستیال یا تقویتي ترکیبي کرنه:** د لومړني نبات په منځ کې د دوهم نبات کرلو ته وایي، ( کله چې لومړنی نبات ګل کوي (مخکې د حاصل له ټولولو) دوهم نبات کرل کیږي لکه: مالوچ، کچالو، سایبین



**د ترکیبی کرنې مهمې موخې:**

د یو نبات د کرلو په پرتله د تولید زیاتول، ځکه چې:

- ځمکې ته ښه پوښښ ورکوي
- د لمر له وړانګو څخه ګټه اخیستنه
- د ریښو ښه او اغیزمنه وده
- اضافه نایټروجن (کله چې د نایټروجن نصب کوونکي نباتات وکرل شي)

۲- د یو نبات د خطرونو او کمزورتیاو ویشل پر نورو نباتاتو:

- د څو نباتاتو کرل: که یو نبات ښه حاصل ورنکړي، بل نبات به حاصل ورکړي

د ناروغیو او حشراتو د حملې د اغیزې کمول، ددې لپاره چې یوه ناروغي یا آفت د یو خاص نبات لپاره دی او نور نباتات یې له تاوانه خلاص وي.

**د ترکیبي کرلو ګټې:**

د افریقا په ډیری برخو کې ترکیبي کرنه یوه عادي تګلاره ده. د غله جاتو او حبوباتو ترکیبي کرنه معموله ده. غلې تر ډیره نرۍ او لوړه وده کوي، په داسې حال کې چې د ټیټ قد لرونکې لوبیا پر ځمکه پرته وي. ترکیبي کرنه د یو نبات د کرنې په پرتله د خاورې ښه ساتنه کوي. غلې زیات لمر ته اړتیا لري،



# د ريښې د غوټې نيماتود پيژندګلوي ( Introduction of Root Knot Nematode )

د ريښو د غوټو نيماتودونه مايکروسکوپيک ګرد چنجيان ډوله ( eel worm) حيوانات دی چې په خاوره کې ژوند کوي او د باغونو د ډيری معمولي نباتاتو له ريښو څخه تغذيه کوي
ځيني هغه نباتات چې کيدای شي هغو ته د ريښو د غوټو په نيماتودونو د اخته کيدو له امله شديد زيان ورسيږي عبارت دی له: رومي بادنجان، بادرنګ، مرچک، بينډی، هندوانه، ختکي، پياز، د کدو مختلفې ورايټۍ، خواږه کچالو، خواږه جوار، ګازرې، توربانجان، لوبيا او نخود څخه.
همدارنګه د ريښو د غوټو نيماتودونه ډيری له ناکاره بوټو څخه هم تغذيه کوي او ژوند پکې کوي. ښځينه د ريښې د غوټو نيماتود ( انځور ۲) کولای شی تر ۵۰۰ هګۍ په يو وخت کې واچوې او ريښو ته د زيان کچه د هغو نيماتودونو په شمير او د ژوندانه په دوام پورې اړه لري چې د اوږي تر پايه ورڅخه تغذيه کوي.

## په نبات باندی د ريښو د غوټو د نيماتودونو نخښې ( Disease Symptoms )

د اخته نبات په ريښو کې ډيرسوبونو ( Swellings) او غوټو ( Galls) شتون
دنبات د قد ټيټوالی
د نبات ژيړوالی
د نبات مړاوی کيدنه د ورځنۍ ګرمي په بهير کې او بيرته رغيدنه د شپې لخوا
نبات لږ شميراو کوچنۍ ميوې نيسي او بلاخره په شديدو حالاتو کې نبات لمنځه تلل







## د ريښې د غوټو نيماتودونو کنترول او منجمنت

که څه هم په تجارتي کرنه کې په پراخه کچه کيمياوي نيماتود وژنکي دواوې د نيماتودونو د کنترول لپاره کارول کيږي، چې دا نيماتود وژونکي په لوړه کچه زهري او هم ډير ګران دي چې بزګر ته د اقتصادي زيان لامل کيږي، د دې نيماتود وژونکي دوا کارول په کورنيو باغونوکي مناسب نه دي.
د مقاومو ورايټيو کرنه: د اکثره مقاومو وړايټيو په ليبلونو په غټ تورو ليکل شوي وي (VFN )

Verticillium wilt – resistant
Fusarium wilt – resistant
Root Knot – Nematodes resistant

د نيماتود ضد نباتاتو کرنه:
Broccoli , Cauliflower , grain sorghum or millet
کرنيز تناوب
عمومي حفظ الصحه
Soil solarization





باقی صفحه 4

# د ږدن او مميليو ترکيبی کرنه د باجرې او لــــــوبيا ترکـــــيبي کرنه

## د ږدن او مميليو ترکيبی کرنه د باجرې او لــــــوبيا ترکـــــيبي کرنه

- ډول، ډول نباتات له خپلو متفاوتو ريښو سره کولی شی د خاورې له مختلفو برخو غذايي توکي جذب کړي. څرنګه چې په لاندنيو انځورونو کې ليدل کيږي، د يو ډول نبات په پرتله د ډول، ډول نباتاتو ريښې د خاورې له مختلفو سرچينو څخه ګټه اخلی.



د ږدن او مميليو ترکيبی کرنه د باجرې او لــــــوبيا ترکـــــيبي کرنه

- ډول، ډول نباتات له خپلو متفاوتو ريښو سره کولی شی د خاورې له مختلفو برخو غذايي توکي جذب کړي. څرنګه چې په لاندنيو انځورونو کې ليدل کيږي، د يو ډول نبات په پرتله د ډول، ډول نباتاتو ريښې د خاورې له مختلفو سرچينو څخه ګټه اخلی.



- ترکيبي کرنه د ناروغيو او آفاتو د خپريدو مخنيوی کوي. دبيلګې په توګه: غلې لوبيا او پليو ته د حشراتو د خپريدو مخه نيسي.
- هغه آفات چې يو ځانګړي نبات ته تاوان اړوي او له منځه يې وړي، کيدای شي د بل نبات د توليد شويو موادو له امله وشړلی شي يا حشرات چې بل نبات يې ځانته جلبوي، د ځمکې مضره ارګانيزمونه او حشرات وخوري. دا تګلاره د ګازرو او پيازو په نږدې کرلو کې ښه اغيزه لري.
- ډيری وختونه د حاصل راټولولو په مهال د کارګرو کمښت تر سترګو کيږي، که د مختلفو نباتاتو د کرلو او حاصل ټولولووختونه توپير ولري، په ټولو موسمونو کې به کار ګران موندل کيږي او کمښت يې نه رامنځ ته کيږي.

## د ترکيبي کرنې تاوانونه:

- تاوان يــې دا دی چې دنباتاتو ګنه ګونه زياته وي چې په فزيکي ډول له ناروغيو، حشراتو او ناکاره بوټو سره مبارزه ګرانوي.
- په ترکيبي کرڼ کې د نباتاتو له کرلو وروسته ميکانيزه کړنې سختيږي. که څه هم په ټوله کې دا ستونزه جدی نده ځکه چې واړه بزګران ډيری کړنې د لاس پواسطه ترسره کوي.

## تګلارې او سپارښتونه:

- په ترکيبي کرنه کې له غلو سره حبوبات زيات کارول کيږي. حبوبات په خاوره کې نايټروجن نصبوي، د بيلګې په توګه: لګيومي نباتات له هوا څخه نايټروجن اخلي او په خاوره کې يې نصبوي او همداراز د نصب شوي فاسفيټ په آزادولو کې هم رول لري. د مختلفو نباتاتو د کرلو وخت، يو د بل سره د اړيکو لپاره ډير مهم دی ځکه که لومړی د نايټروجن نصبونکی نبات ورسيږي او وريبدل شي، نو په خاوره کې يو څه نايټروجن او فاسفورس به لا مخکې په خاوره کې د راتلونکي نبات لپاره شتون ولري

- ځيني داسې نباتات شته چې بعضې ناروغۍ او آفات ځانته راجلبوي او يا يې شړي، ترکيبي کرنه هغه بهير درولی شي او دا د کرل شويو محصولاتو، اقليم او په سيمه کې شته ناروغيو او آفاتو پورې ترلی دی. نو ځکه پکار دی چې د لومړي ځل لپاره په کمه ځمکه دا تجربه تر سره کړو.
- که‌په يو بستر کې بزګران د ډول، ډول نباتاتو له کرلو سره خوښ نه وي، نو د نباتاتو کرنه يوه بله ټاکنه ده. په دې ډول څو ډوله نباتات چې مختلفې ريښې لري او ورته ناروغۍ نه لري، يو په بل پسې په کرونده کې کرلی شي چې له دې کار سره هم کولی شي د ترکيبي کرنې له ځينو ګټو څخه برخمن شي.

**ترجمه له:**

**CTA- Agrodok-series No-2- soil fertility management- and http://www.dutchopeners.com/news-events/the-benefits-of-intercorping**





د جوارو ريښه



د لوبيا ريښه

# د کار زدکړه په ۲۰۱٦ کال کې:

په ۲۰۱۶ کال کې د اتو ښوونځیو د مدیرانو لخوا زده کوونکي د کرهنې او وترنرۍ کمپنیو ته ولیږل شول کوم چې یا ښوونځیو ته او یا هم د زده کوونکو کورونو ته نږدې وو. په نوموړي کال کې د هغو زده کوونکو شمیر چې د کرهنې د لیسو او انستیټوټونو لخوا کمپنیو ته د کار دزدکړې لپاره استول شوي وو، د ۲۰۱۵ کال په پرتله له ۶۰ څخه ۲۸۳ تنو ته لوړ شوی وو.
په دې لیکنه کې د ۲۰۱۶ کال د زده کوونکو د کار د زدکړې همدې ټکي ته اشاره شوې ده. موږ هیله لرو چې محترم مدیر صاحبان به خپل زده کوونکي د کار د زدکړې دورې ته ولیږي او له دې فرصت څخه دې پوره، پوره ګټه واخلي.

**د کار د زده کړې د رزه کوونکو ټول شمیر:**

په ۲۰۱۶ کال کې اتو ښوونځیو وکولی شول چې خپل زده کوونکي د کار د زدکړې دورې لپاره شخصي او دولتي د کرهنې او وترنرۍ کمپنیو ته ولیږل. د کار د زدکړې د ټولو زده کوونکو شمیر لپاره لاندې جدول ته وګورئ:

| ګڼه | د ښوونځي نوم | د ټولو زده کوونکو شمیز | هلکان | نجونې | کمپنۍ |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د پروان د کرهنې او وترنرۍ انستیټوټ | ۹۰ | ۶۰ | ۳۰ | د وترنرۍ کلینیک، انجو، د کرهنې دیپارټمنت، د اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست او د پروسس کمپنۍ |
| ۲ | د شولګرې د کرهنې لیسه | ۳۶ | ۲۱ | ۱۵ | د کرهنې او وترنرۍ کلینیک |
| ۳ | د سمنګانو د کرهنې او وترنرۍ انستیټوټ | ۵ | ۵ | ۰ | د سمنګانو د وترنرۍ کلینیک |
| ۴ | د سرخرود د کرهنې لیسه | ۱۵ | ۱۵ | ۰ | د کرهنې کمپنۍ |
| ۵ | د لوګر د کرهنې او وترنرۍ انستیټوټ | ۵۷ | ۵۷ | ۰ | د خوراکي توکو شخصي ګدام، د اوبولګولو کرهنې او مالدارۍ ریاست او د ان اچ ال پي ین |
| ۶ | د پکتیا د کرهنې او وترنرۍ انستیټوټ | ۲۵ | ۲۵ | ۰ | د پکتیا د اوبولګولو کرهنې او مالدارۍ ریاست، شخصي قوریه او د وترنرۍ کلینیک |
| ۷ | د فیض اباد د کرهنې او وترنرۍ انستیټوټ | ۷ | ۷ | ۰ | د چرګانو د روزنې شخصي فارم، د وترنرۍ کلینیک |
| ۸ | د هرات د کرهنې او وترنرۍ انستیټوټ | ۴۸ | ۳۲ | ۱۶ | د هرات د اوبولګولو کرهنې او مالدارۍ ریاست، او ان اچ ال پي |
| ټوله | | ۲۸۳ | ۲۲۲ | ۶۱ | |

**د کار د زدکړې د ثبت کتاب:**

د څیني زده کوونکو د کار د ثبت کتابونه (Log book) د څیړلو لپاره کاپي شوي دي څو مالومه شي کوم کارونه کمپنیو د کار زدکړیالانو ته ور زده کړي دي او زدکړیالانو کومې وړتیاوې د کار د زدکړې له دورې څخه زده کړي دي. د کار د ثبت له دې کتابونو څخه دوه په لاندې ډول څیړل شوي دي:
د زده کوونکي نوم: نصرت الله
ښوونځی: د سمنګانو د کرهنې او وترنرۍ انستیټوټ
کوربه کمپنۍ: د ایبک ښار، د وترنرۍ کلینیک
د کارد زدکړې موده: ۲ میاشتې

په لاندې ډول دا هغه کارونه دي چې د کمپنۍ د مسوول لخوا زدکړیالانو ته په پام کې نیول شوي دي. دا کارونه د زدکړیالانو د کار د زدکړې د ثبت په کتاب کې د سوپروایزر لخوا لیکل شوي وو چې زدکړیالانو باید د زدکړیالۍ په دوره کې هغه ترسره کړي وای.

1. د څارویو ثبتول
2. د څارویو معاینه
3. د ناروغیو تشخیص د میکروسکوپ پواسطه
4. واکسین کول
5. د څارویو خصی کول
6. د بلاربو څارویو تشخیص
7. د څارویو د بدن د تودوخې کتنه
8. د چرګانو واکسینول

د هرې اونۍ په پای کې سوپروایزر د زدکړیالانو د هغو فعالیتونو راپورونه تصدق کول چې زدکړیالانو په یوه اونۍ کې ترسره کړي وو. لاندې د سوپروایزر لخوا یو لیکل شوی راپور وګورئ:
ښاغلی نصرت الله کولی شول یو څاروی معاینه کړي، هغه په عملي ډول د طبق یا FMD ناروغي په یو څاروي کې تشخیص کړه. هغه همدارنګه یو څاروی خصي کړ. د هغه ډیری فعالیت د هغو ناروغو څارویو ثبتول وو چې د درملنې لپاره کلینیک ته راوستل شوي وو.
د کار د ثبت په کتاب کې د کار د زدکړیال د یوې اونۍ کارونو له څیړلو وروسته چې سوپروایزر د ښاغلي نصرت الله په اړه لیکلي موږ یې عملي کارونه په لنډ ډول داسې ډول بیانوو:

1. د هغو څارویو ثبتول چې کلینیک ته راوستل شوي دي
2. د څارویو خصي کول
3. واکسینول
4. د میکروسکوپ په مرسته د ناروغیو تشخیص
5. له وترنر سره د درملو په تجویز کې مرسته
6. د چرګانو د ناروغیو مالومول نیو کاسټل او ګومبرو
7. د بلاربیدو آزمایښت
8. د څارویو د لیونتوب ټسټ
9. په څارویو کې د ویټامینونو د کمښت مالومدل
10. د کروندې روغتیا ته پاملرنه







**د کار د زدکړیالانو د کار حدود په کمپنۍ کې:**

هغه زده کوونکي چې د ښوونځي لخوا مختلفو کمپنیو ته استول شوي دي، په مختلفو برخو کې لکه کرهنې، وترنرۍ، د میوو او سبزیجاتو په پروسس او د ولتي ادارو کې کار کوي. تاسې دا فعالیتونه په لومړۍ ګڼې جدول کې وګورئ. ځیني زده کوونکي د کرهنې او وترنرۍ د مختلفو کارونو په برخه کې ګومارل شوي دي په داسې حال کې چې ځیني یې د دولتي ادارو په اداري چارو لګیا دي.

| د کار د زدکړیالی په دوره کې مو په کمپنۍ کې د کار ساحه څه وه؟ |
|---|
| اداري چارې |
| له وترنر ډاکتر سره مرسته |
| د ترویج کارکوونکی |
| د کروندې مدیریت |
| د وترنرۍ عمومي چارې |
| د شني خونې کارکوونکي |
| د قوریې کار کوونکی |
| د بڼ او د میوو د پروسس کارکوونکی |
| د درملو پلورونکی |
| د نورو زدکړیالانو سرپرست |

**د کار د زدکړې له دورې څخه رضایت:**

**د انټریو له مخې ۷۷ ٪ زکړیالان د کار د زدکړې له دورې څخه ډیر راضي وو. دوی ویلي چې د کار د زدکړې دوره زموږ لپاره یو نوی فعالیت وو او د سیر علمي په خلاف موږ کولی شول د کمپنۍ د کارکوونکو په څیر په کمپنۍ کې په عملي دول کار وکړو. دوی زیاتوي چې د کارد زدکړې په دوره کې مو داسې شیان زده کړل چې په ښوونځي کې مو نه وو لوستلي. بله خوا ۸ سلنې زده کړیالانو لږ رضایت ښودلی دی او دوی دا دلیل ویلی چې د ډیرو زدکړیالانو د شتون له امله به کله کله ددوی لپاره کار نه وو او همدارنګه دوی له ښوونځي څخه کمپنۍ ته د تللو لپاره د ترانسپورټ نشتون هم ستونزه بللې ده.**
**مهرباني وکړی په لاندې ګراف کې د زده کړې له دورې څخه د زده کوونکو د رضایت کچه وګورئ:**







**تر لاسه شوي مالومات او وړتیاوې:**

د زدکړیالانو سره د مرکې له مخې دوی د تر سره شویو فعالیتونو په برخه کې کم تر کمه له ۲ تر ۵ وړتیاوې له خپل سرپرست یا نورو همکارانو څخه زده کړي دي. دوی وایې چې په ښوونځي کې یې یوازې تیوریک مالومات تر لاسه کړي دي مګر د زدکړیالۍ په مهال موږ وکولی شول په تیوریکي مالوماتو عمل وکړو او ځینې نوې وړتیاوې هم ترلاسه کړو.
۴. د عملي وړتیاوو اهمیت:
د مرکه شویو زده کوونکو د ځوابونو له مخې ۶۴ ٪ زده کوونکو ویلي، هغه وړتیاوې چې دوی د زدکړې په دې دوره کې ترلاسه کړي، ددوی لپاره ډیرې مهمې دي او له دوی سره به د کارونو په ښه ترسره کولو کې مرسته وکړي. سربیره پردې، کچیرې کمپنۍ داسې کسانو ته اړتیا ولري او وغواړي او په کار یې وګوماري، دوی به کولی شي دهغو کارونه ترسره کړي. لاندې ګراف د زده کوونکو له نظره د ډیرو مهمو او لږو مهمو وړتیاوو ښودنه کوي.

**۸. د ښوونځیو او کمپنیو تبصرې:**

له ښوونځیو څخه د لیدنو په مهال هم له مدیرانو او د زده کوونکو د سرپرستانو څخه ښوونځیو او کمپنیو ته د کار د زدکړې د دورې د ګټو په اړه پوښتنه شوې. لاندې په مجموعي ډول ددوی تبصرې او وړاندیزونه تاسې ته رانقلوو:

**د مدیرانو نظر:**

د کار د زدکړې دوره د زده کوونکو لپاره په عملي ډول د کار د ترسره کولو یوه ارزښتناکه دوره ده. له بله پلوه د تخنیکي او مسلکي معینیت له معیارونو څخه یوه دا ده چې ۷۰ ٪ زدکړه باید په عملي بڼه ترسره شي، ښوونځي د کمپنیو په څیر د عملي کارونو ډیرې آسانتیاوې نلري. د فعالیتونو د ثبت کتاب هم ډیر اړین دی چې د زده کوونکو ټولې کړنې پکې لیکل کیږي.

**د کمپنیو نظر:**

په ټوله کې د کمپنیو سرپرستان د زدکړیالانو د کارکردګۍ څخه راضي وو. دوی وایي چې د ښوونځیو زده کوونکو تر یوه حده له دوی سره مرسته کړې او په کمپنیو کې د اړینو کارکرو ځای ډک کړی دی. په همدې حال کې دوی وړاندیز کوي چې لومړی باید زده کوونکو ته دې د کمپنۍ له فعالیتونو سره سم یو ټریننګ ورکړ شي او زده کوونکي باید د هغو وسایلو په هکله چې په وترنرۍ او لابراتوار کې ډیر کارول کیږي، لومړني مالومات ولري. کمپنیو دا وړاندیز هم کړی دی چې زده کوونکي باید ترانسپورټي آسانتیاوې ولري، ځکه چې امنیتي روانو حالاتو ته په کتنې دا له خطره خالي نده چې زده کوونکي په ځانګړې توګه نجونې دې په عمومي وسایلو کې کار ته راشي.

# ډیر ژر...

**د ښنسټیزو وړتیاوو په برخه کې د پن راتلونکي ټریننګونه:**

په څو راتلونکو میاشتو کې به د پن موسسه د شنو خونو د ناروغۍ او حشراتو مدیریت او د مچیو د روزنې ښنسټیزو وړتیاوو ټریننګونه د لیسو او انسټیټوټونو د استادانو لپاره تر سره کړي چې ددې هر ټریننګ لپاره د پن لخوا د زدکړې مواد چمتو شوي او ګډون والو ته به یې وویشي.

**د کرهنې د لیسو او انسټیټوټونو د فعالیتونو نندارتون:**

د کرهنې د لیسو او انسټیټوټونو ننداراتون به د روان کال د وږي په میاشت کې تر سره شي. ددې ننداراتون موخه به د کرهنې د لیسو او انسټیټوټونو او د هغو خصوصي کمپنیو تر منځ د تجربو او وړتیاوو شریکول وي چې د کرهنې په برخه کې فعالیت کوي. موږ د لیسو او انسټیټوټونو له آمرینو او استادانو څخه هیله کوو څو په دې ننداراتون کې د برخه اخیستنې لپاره خپل محصولات له ځانه سره راوړي او همدا رنګه دوی کولی شي په دې ننداراتون کې خپلې لاسته راوړنې او نوښتونه له نورو سره شریک کړي.

**د کرهنې د ښوونځیو تجارتي پلانونه:**

د تیر کال په څیر سږ کال هم د پن موسسه په پام کې لري څو له څلورو ښوونځیو سره د وړو تجارتونو په برخه کې مرسته وکړي. دا څلور ښوونځي به د ښه تجارتي پلان او تر ټولو ښه پروپوزل لیکلو له مخې ټاکل کیږي.

**وړې ډالۍ:**

سږ کال د پن موسسه په پام کې لري خپلې وړې ډالۍ هغو ښوونځیو ته ورکړي چې پروژ یې په ښوونځیو کې د ښځینه زده کوونکو د شاملیدو هڅونه وکړي او یا د ښوونځیو او بزګرانو او کمپنیو تر منځ اړیکې منځ ته راوړي څو زده کوونکو ته د عملي کارونو لپاره لاره هواره کړي او همدارنګه بزګران هم وکولی شي د ښوونځیو له تجربو څخه برخمن شي.